مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ليکوال: جيفري رابرټس
ترجمه: عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۰۹/۰۸

امريکايی ليکوال جيفري رابرټس، په ۲۰۰۳ کال کي، په افغانستان کي د جګړي ريښي، په نوم، يو مغتنم او مستند، کتاب ليکلی دی. د دې کتاب دوولسم، ديارلسم او څوارلسم فصلونه، په زړه پوري معلومات لري. او ما د ترجمي لپاره انتخاب کړي دي. خدای دي وکړي چي لوستونکو ته ګټور ثابت سي. په دې کتاب کي، جيفري رابرټس ښودلي ده چي افغانستان له څومره پخوا زمانو څخه د امريکا سره د ډيپلوماتيکو او اقتصادي اړيکو د ټينګولو کوښښونه کړي دي او امريکا او برتانيي په څومره غرور دا پيشنهادونه رد کړي، د پښتو نستان په برخه کي يي څومره غيرعادلانه دريځ نيولی او لا يي په مطبوعاتو او خپل کانګريس کي افغانستان په سپکو نومونو هم ياد کړی دی. بالاخره د امريکايانو دغه بي پروايی وه چي د افغانستان واکمنان يي مجبور کړل چي له خپل شمالي ګاونډي شوروي اتحاد څخه پوځي او اقتصادي مرستي تر لاسه کړي. او په نتيجه کي هغه څه پيښ سول چي ټولو وليدل.

The Origins of Conflict in Afghanistan: Jeffery J. Roberts.

# د ټرومن حکومت او افغانستان:

## د هيلمند وادي پروژه، پښتونستان او پوځي مرستي

### دوولسم فصل

### (۱)

افغانستان، په ۱۹۱۹ کال کي د خپلواکی د ترلاسه کولو څخه وروسته، د يو شمېرهيوادونو سره ډيپلوماتيک اړيکي ټينګ کړل. د فرانسي، جرمني او جاپان په څېر هيوادونو ډېر ژر د هغه هيواد په تعليمي،اقتصادي او کلتوري پروژو کي برخه واخيستله.خو له متحده ايالاتو سره د افغانستان اړيکي په نشت حساب وې. که څه هم چي د افغانستان استازو، له امريکا څخه ان په ۱۹۲۱ کال کي، د رسميت پېژندلو او اقتصادي همکاريو غوښتنه وکړه، خو جمهور رئيس وارن هارډينګ Warren Harding په افغانستان کي د تجارتي همکاريو او انکشاف امکانات رد کړل او د ډيپلوماتيکو اړيکو د ټينګولو موضوع يي هم آينده ته پرېښودله. په ټوله هغه ليسزه کي چي د افغانستان مقاماو په دغه برخه کي هر څه تلاښونه وکړل د امريکا په دريځ کي تغيير را نه غی. که څه هم چي په بهرنيو هيوادونو کي د افغانستان ډيپوماتيکو استازو زمونږ له ډيپلوماټانو سره پرله پسي تماسونه ټينګ کړل او هر يوه خپل کوښښ وکړ چي په واشنګټن کي د افغانستان ډيپلوماتيک دفتر پرانيستل سي، هارډينګ او کالوين کوليج Calvin Coolidge د افغانستان د دوستی پيشنهادونه ونه منل او زياتره يي په زغرده ردول.
د امريکا د حکومت د دغه راز سلوک يو علت په خارجه وزارت کي د هغه هيواد په باب موجود نظر وو او د بلي خوا له خارجه وزارت څخه ډېر ګوښه پاته سوی وو او په خارجه وزارت کي څنداني داسي څوک نه وو چي د افغانستان په باره کي دي کره او سم معلومات ولري. ډيرو کسانو د برتانيي پر مشهورو خپرو سويو کتابونو او يا د هغو کسانو پر غلطو ليکنو باندي تکيه کړي وه چي افغانستان ته يي سفرونه کړي وه او د هغه هيواد خلک يي بې باوره او وحشي معرفي کړي وه او چي له افغانستان سره به د ډيپلوماتيکو اړيکو د ټينګولو خبره مطرح سوه نو دوی به په يوه آواز رد کړه، هغه به يي داسي ډيپلوماتيک عمل وباله چي هسي د وخت ضايع کول او ضمنا خطرناک دی.
د خارجه وزارت د نيژدي ختيځ د څانګي رئيس والاس سميت موري Wallace Smith Murray چي به په ۱۹۳۰ کي د کانګريس په مخ کي، د افغانستان په باب، خبري کولې نو زياتره به يي دغو نظرياتو ته انعکاس ورکاوه. موري به ويل:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ

« په دې کي هيڅ شک نسته چې افغانستان، نن ورځ، په نړۍ کي تر ټولو متعصب او له غربي نړۍ سره دښمن هيواد دی.... هيڅوک نه سي ويلای چې په هغه هيواد کي د عيسويانو او مسلمانانو حقوق سره مساوي دي. په افغانستان کي بانکونه نسته... که څوک افغانستان ته پيسې ليږي نو بايد چې په سرو او سپينو زرو بار کاروانونه ور واستوي او دا کاروانونه په هغو سيمو کي تير کړي چې ټولي غلو نيولي دي... افغانان د ماليې له ورکولو او عسکري خدمت څخه نفرت لري او چې وس يې رسيږي نو جګړو او ګډوډيو ته مخه کوي... پر بېوزلو خلکو او کاروانونو باندي له حملو څخه هيڅ وخت دريغ نه کوي... په افغانستان کي د هيڅ خارجي ژوند په امان کي نه دی او د هيڅ خارجي هيواد ګټي څوک نه سي تضمينولای. »

د مورې دغه تبصرې يقيناً چې مبالغه وه او ډېر ځله به غلطي هم وې خو هغه دا خبري په داسي وخت کي کولې چې لږ مخکي په افغانستان کي د امان الله خان نظام سقوط کړی وو او د بچه سقاو په لنډه پاچهي کي داسي کارونه سوي وه چې د مورې خبري يې تر يوه ځايه پوري قناعت بخښونکي ثابتولې. په دې کي چنداني شک نسته چې دغه راز تبصرو د امريکا له خوا د افغانستان په رسميت پيژندل ځنډولي وه. کله چې متحده ايالاتو، د ۱۹۳۴ کال د اګسټ په مياشت کي، افغانستان بالاخره په رسميت وپېژاند نو د امريکا د خارجه وزارت د مقام کفيل ويليم فيليپس وويل چې د افغانستان په رسميت پېژندلو کي د ځنډ يو علت دا دی چې هغه هيواد ډېر وروسته پاته وو... د خارجيانو د ژوند تضمين موجود نه وو او دغه راز کومه خاصه ګټه پر بناء هم نه وه.

فيليپس دغه راز هغه علتونه په خلص ډول بيان کړي دي چې د فرانکلين روزويلټ د امريکا د پاليسی د تغيير سبب سوي دي: « ماته له ډيرو منابعو څخه اطلاع رسېدلې ده چې د افغانستان حکومت له ښه ډيرو کلونو راهيسي آرزو درلوده چې له امريکا سره ډيپلوماتيک اړيکي ټينګ کړي. هغوی په دې پوهېدل چې د امريکا له خوا د هغوی په رسميت پيژندل کېدل به د ملتونو په ټولنه کي د هغوی د شامليدلو په تلاښونو کي ډېر لوی روحياتي کومک ورسره وکړي. څرنګه چې د افغانستان حکومت ټولو لويو قدرتونو په رسميت پيژندلی دی او څرنګه چې اوسنی رژيم ټينګ او با ثباته ښکاري نو زه نه پوهيږم چې موږ لا ولي د هغه هيواد په رسميت پيژندل ځنډوو. »

ويليم ايچ هورني بروک د افغانستان لپاره د امريکا لومړنی سفير دی چې د ۱۹۳۵ کال د مې په مياشت کي معرفي سو مګر په اړيکو کي چنداني تغيير را منځته نه سو. که څه هم چې د افغانستان صدراعظم محمدهاشم خان کوښښ وکړ چې له امريکا سره اقتصادي اړيکي نيژدې کړي او امريکا په افغانستان کي پانګه اچوني ته تشويق کړي خو له هر شرکت سره چې هغه تماس ونيوی د ده پيشنهاد يې ونه مانه. د ۱۹۳۰ په لسيزه کي د نړۍ د اقتصادي وضع خرابوالی، په افغانستان کي د مالونو د بازار محدوديت، د ماهرو کارکوونکو نه موجوديت، په وچه کي موقعيت، او د ټرانسپورټ د شبکې ابتدايي حالت ټول د دې سبب سول چې پانګه والو په هغه هيواد له پانګي اچولو سره دلچسپي نه ښودله. د مثال په ډول، افغانستان د ۱۹۳۶ کال د نومبر په مياشت کي د اينليند شرکت ته، په پنځو ولايتونو کي د تېلو د زخيرو د پلټلو لپاره، د پنځه اويا کلن قرارداد پيشنهاد وکړ. دغه شرکت په کار پيل وکړ مګر د کار له پيل کولو څخه يو کال وروسته يې، حتی د لومړنيو جيولوجيکي سروې ګانو له بشپړېدلو څخه مخکي، بيرته کار پرېښود. د دوی دليل دا وو چې ويل يې د تيلو زخيرو ته رسېدل ډېر زيات لګښت غواړي او په هغه هيواد کي د حمل و نقل شبکه په ډېر ابتدايي حالت کي ده. دې شرکت دغه راز له دې امله اندېښنه ښکاره کړه چې ويل يې د تېلو کشف کړي زخيرې د شوروي اتحاد پولي ته ډيري نيژدې دي. له بلي خوا د تيلو د دغه شرکت دوه مشران، چې قرارداد يې لاسليک کړی وو يو په بل پسې مړه سول او ضمنا شرکت په نورو ځايونو کي د تېلو داسي زخيرې پيدا کړې چې په استخراج کي يې ډېري زياتي ستونزي نه لرلې. دا د افغانستان د حکومت لپاره يو سخت ګوزار وو ځکه چې امريکايانو په ډېره اساني قرارداد فسخ کړی وو په داسي حال کي چې نور شرکتونه تر دغه په لږو امتيازاتو د افغانستان د تيلو د را ايستلو لپاره قرارداد ته حاضر وه. د امريکا او افغانستان اړيکي په يو څو محدودو علمي او د کاروبار په ساحو پوري منحصر پاته سول.

په کابل او واشنګټن کي د ډيليوماټيکو اړيکو د پراخولو کوښښونه هم ناکام سول. افغاني مقاماتو او د تېلو د شرکت مشرانو، په افغانستان کي د زېرمو د پلټلو پر سر د خبرو په ترڅ کي، پيشنهاد وکړ چې د دواړو هيوادونو په پاتختونو کي دې هياتونه فعال سي. مورې به دې پيشنهاد سره سخت مخالفت وښود او ويل يې چې امريکا په افغانستان کي دونه ګټي نه لري چې په هغه هيواد کي د سفارت درلودلو په لګښتونو و ارزي. ده په آينده کي هم په افغانستان کي د يوه ډيپلوماټيک دفتر د درلودلو په برخه کي ملاحظات درلودل. مورې وليکل چې افغانستان داسي هيواد دی چې په پخوا کي هلته هر وخت ناکراری موجودي وې. ده وويل چې دا خبره مو بايد په ياد وي چې په افغانستان کي، د لوېديځ پر معيار برابر، عدالت او قضايی سسټم نسته او د لوېديځ اتباع به، چې په افغانستان کي کارکوي، د هغه هيواد د قضا او قانون تابع وي. ده وويل چې د افغانستان حکومت د يوه ايټالوي او يوه جرمني له حقوقو څخه د دفاع کولو توان نه درلود. مورې د دغو دلايلو په اساس، له حکومت څخه وغوښتل چې له افغانستان سره د ډيپلوماټيکو اړيکو او د کونسلګريو د تاسيسولو څخه ډډه وکړي. ده وويل چې په دې برخه کي بايد د برتانيې نظر وپوښتل سي چې په افغانستان کي حياتي سياسي ګټي لري او د هغه هيواد له کلتور سره بلد دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

د افغانستان او امریکا ترمنځ تماسونه په دوهمه نړۍ واله جګړه کي ډېر زيات سول. په ایران کي د امریکا سفیر د ۱۹۴۱ کال د جون په میاشت کي افغانستان ته ولاړی او په هغه هیواد کي یې د امریکا د سمدستي دایمي ډیپلوماټیک دفتر د پرانیستل کېدلو غوښتنه وکړه. ده ریوټ ورکړ:

« څرنګه چې افغانستان، په خپلو ګاونډیانو کي، داسي څوک نه لري چې د مرستي لپاره مخ ور واړوي نو له ډېره وخته دا هیله لري چې یو دریم ګړی هیواد، چې دوی هر وخت فکر کوي هغه به امریکا وي، له دوی سره همکاري او مرستي وکړي. امریکا باید د دغه واړه او مستقل هیواد د دوستۍ اوږد کړی لاس رد نه کړي. موږ باید د اسیا په یوه ستراتیژیکه سیمه کي د یوه مستحکم دریځ درلودلو لاسته راغلی فرصت له لاسه ورنه کړو. څرنګه چې موږ اوس له افغانستان سره د ښوونکو او نورو تخنیکي سلاکارانو د استولو په باب خبري کوو او ښایي په راتلونکي کي په نورو برخو کي هم د مرستو او همکاریو په باب خبري ورسره وکړو نو په هغه هیواد کي ښایي زموږ دلچسپۍ زیاتي سي. »

له دې توصیې څخه لږ وروسته، د روزویلټ حکومت فیصله وکړه چې په افغانستان کي دي یو ډیپلوماټیک دفتر تاسیس سي.

په ۱۹۴۲ کال کي کورنیلیوس وان اینګرټ، د امریکا د لومړي سفیر په حیث، په افغانستان کي مقرر سو. هغه ته دا محرم هدایت هم ورکړه سوی وو چې په افغانستان کي د داسي یوې لویې لاري پر جوړېدلو باندي خبري وکړي چې شوروي اتحاد او چین ته غځېدلې وي. دا به داسي یوه لاره وي چې له خیبر څخه ځي او په هندوکش کي به تیریږي. برټانیې، د یو شمېر دلایلو له مخي، د دغه پلان پر ضد استدلال کاوه. برټانیې ویل چې یو خو افغانستان رسماً یو بېطرفه هیواد دی، بل دا چې د هغه هیواد قبایل په اعتبار نه دي او دریم دا چې په دې پروژه ډیري زیاتي پیسې لګیږي او ډېر زیات کار غواړي خو له افغانستان څخه په مقابل کي ډېر لږ څه ترلاسه کېدلای سي. دا چې د برټانیې د دغه استدلال اغېزه وه او د که د شوروي اتحاد اعتراضونه وه او که امریکا کومه بله ګټوره پروژه پیدا کړه او یا کومه بله خبره وه خو دا پروژه پاته سوه. او د اینګرټ هغه پېشنهاد هم عملي نه سو چې ویل یې امریکا دي، د افغانانو د روحیې د تقویه کولو لپاره، په هغه هیواد کي د بمب غورځوونکو الوتکو، یوه تش په نامه قوه ځای پرځای کړي.

اینګرټ افغانستان ته د دایمي مرستو ورکولو د لنډي او اوږدي مودې ګټي په نظر کي نیولي وې. اینګرټ استدلال کاوه چې په دې توګه به مو نه یوازي د متحدینو له یوه طرفدار هیواد سره مرسته کړې وي بلکه د افغانستان او متحده ایالاتو ترمنځ د تجارتي او دوستانه اړیکو په ټینګولو سره به مو نه یوازي هغه هیواد غښتلی کړی بلکه له ملګرو ملتونو سره به مو هم نه یوازي اوس بلکه له جنګ څخه وروسته هم دریځ قوي سوی وي. که موږ افغانانو ته اجازه ورکړو چې هغوی د خپلو قانوني او ضروري اړتیاو د لیري کولو لپاره زموږ څخه یوه اندازه مواد واخلي او که موږ له دوی څخه د پسونو یوه محدوده اندازه پوستونه واخلو نو هغه هیواد به موږ ته د داسي دوستانو په سترګه وګوري چې وایې د محور د هیوادونو له اقتصادي تسلط څخه یې وژغورلو. اینګرټ ویل چې افغانستان ډیرو زیاتو مالونو او موادو ته اړتیا نه لري او په ډیرو لږو مرستو کولای سو چې هغه هیواد د جنګ څخه وروسته کلونو کي خپل دوست کړو.

اینګرټ بالاخره داسي لاري پیدا کړې چې افغانستان ته ځیني ملکي مرستي ورسوي او له هغه هیواد څخه یو څه د قره قل پوستکي بهر ته صادرکړي. دا چې اینګرټ د جنګ د کلونو په محدودیتونو کي هم افغانستان ته یو څه ضروري مواد ورسول هغه هیواد یې بیا هم د امریکا څخه منندوی کړ. کله چې هغه هیواد ته تېل، ټوکران، چای، بوره او ځیني نور ضروري مواد ورسېدل نو نه یوازي یې د هغه هیواد عادي خلک د حیاتي موادو له کمبود څخه وژغورل بلکه د افغانستان د حکومت حیثیت او اعتبار یې هم په خپلو خلکو کي لوړ کړ. لېنکیسټر وایي چې د جنګ د ختمېدلو په وخت کي ټولو افغانانو د امریکا د هر څه ستاینه کوله.

اینګرټ معمولا پر دې خبري زیاته تبصره کوله چې افغانستان له لوېدیځ سره د اړیکو ټینګولو ته لېواله دی. ده دا خبره ځکه کوله چې ده ته څرګنده سوې وه چې افغانان د روسیې او شوروي اتحاد د ډیپلوماسی له تجربو څخه وېره لري او تر شوروي اتحاد د برټانیې دوستی ته ترجیح ورکوي. که څه هم چې ځینو افغان مشرانو فکر کاوه چې شوروي اتحاد به په دوهم نړۍ وال جنګ کي له لیدلو تاوانونو څخه ژر پر پښو ونه دریږي خو ځینو چې له جنګ څخه وروسته د هغه هیواد د پراختیا غوښتني پالیسی لیدلې نو ډېر زیات به وارخطا سول. اینګرټ بالاخره داسي نتیجه ګیري کوله چې هر کله جنګ ختم سي نو روسیه به له خپلو ګاونډیو هیوادونو څخه ډېر زیات امتیازات وغواړي او بیا به نه متحده ایالات او نه برټانیه د هغه مخه ونیولای سي. تر ټولو عالي رتبه مقاماتو عقیده درلوده چې د کمونیزم له منګولو څخه د افغانستان د نجات لاره له متحده ایالاتو او برټانیې سره د اړیکو په ټینګولو او زیاتولو کي ده. اینګرټ په نتیجه کي ویل چې د افغانستان لپاره به د متحده ایالاتو دوستي تر ټولو نورو هیوادونو غوره وي.

اینګرټ له افغانستان سره د مرستو کولو په سیاست ښه پوهېدی. هغه په دې ښه خبر وو چې د امریکا اوسنی پالیسي، له جنګ څخه وروسته کلونو کي، د دواړو هیوادونو ترمنځ، په عمومي سیاسي ساحه او اقتصادي او تجارتي ساحه کي یو پوخ اساس ایږدي. مګر اینګرټ ویل چې که د دغه اوسنۍ پالیسی نتیجه دوامداره وي نو بیا باید امریکا له، جنګ څخه وروسته، له افغانستان سره، په پوره سخاوت، خپلو پالیسیو ته دوام ورکړي. ده ویل چې له دې واړه هیواد



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سره باید دوامداري مرستي وسي؛ هم د دې هیواد جغرافیایی موقعیت او هم د یوه مستقل اسلامي هیواد په حیث د هغه هیواد اهمیت په نظر کي ونیول سي. ده زیاته کړه چې که موږ غواړو چې د خپلو اوسنیو اقتصادي مرستو څخه یوه نتیجه ترلاسه کړو نو باید چې د جنګ په دوران کي او له جنګ څخه وروسته کلونو کي د هغه هیوادپه بیا جوړولو کي مرسته وکړو. ده وویل چې له خارجه وزارت، واشنګټن او راتلونکو پالیسي جوړوونکو څخه غواړي چې دا حقیقت په نظر کي ولري چې د افغانستان اهمیت یوازي په دې کي نه دي چې هغه یو مهم اسلامي هیواد دی بلکه په منځني ختیځ کي د متحده ایالاتو لپاره ستراتیژیک اهمیت هم لري.ده د خپلو لیکونو په پای کي یوه خواشینونکې پېش بیني کوله او هغه دا چې افغانستان به یو وخت د ټولو هېرسي.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ